# د آدم ټول اولادونه خطا کوي او تر ټولو غوره خطا کوونکي هغه دي چې توبه وباسي

له انس بن مالک - رضي الله عنه ځخه - روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: د آدم ټول اولادونه خطا (ګناه) کوي او تر ټولو غوره خطا کوونکي (ګناهګاران) توبه کوونکي دي ».

[حسن] [ابن ماجه روايت کړی دی - ترمذی روايت کړی دی - احمد روايت کړی دی - دارمي روايت کړی دی]

انسان له ګناه نه خالي نه دی، د هغې کمزورتيا له امله چې د فطرت له مخې ورسره پيدا شوی او خپل مالک ته د غاړې نه ايښودلو له امله د هغه څه په کولو چې امر يې ورته پرې کړی او د هغه په نه کولو چې ترې منع کړی يې دی، مګر الله پاک خپلو بندګانو ته د توبې دروازې پرانستلي او خبر يې ورکړی چې : تر ټولو غوره ګناهکاران توبه کوونکي دي.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/5344

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC
E-Da'wah Committee